د کابل مجلې ښخه

ګڼه ۱۵۱ - مخ ۲۴ -  میزان ۱۳۲۲ - سپټمبر ۱۹۴۳

# د خوب تحلیل

د خوب لپدلو پر سیبو پو هانو دېر ی ښېر نی کړ ی او رنګ رنګ افکارئې له قدیمه پر ښکاره کړی‌دی دا لاندی مضمون هم پر دغه علمی موضوع دیوه پو ه لیکو نکی ر ا یه ده چه مو نږ ئې د یو ی نظر یې په دول نشر کوو .

ښاغلی محمد رسول خا ن قند ها ری

دتېری میاشتی په مجله کښې مو یومضمو ن دخوب په خصوص کښې ولوست لحمایه فکر دایوه موضو ع وه چه تراوسه نده تحلیل‌شوی، لحکه داموضوع دوې خواوې لری هغه خوائې چه دبدن په تکنیکی اوشیمی وضعیت یعنی ماده پوری‌اړه‌لری‌څه پکښې ویل کېږی اوهغه خوائې‌چه دروح دپلوه‌دراتلونکو واقعاتو سره تبلول کېږی په هغه کښې دېرلحله چاچه څه ویلی دی عندی اوتوجیهی ښکاری ولی دمو ضو ع دا اړ خ په روحی حرکاتو پوری اړه لری نولحرنګه چه ر و ح ندی پېژندل شوی حرکات ئې هم پور ه نه پېژ ندل کېږی همدغه سبب‌دی چه ساینس والاددغه‌پلو ه ښخه انکار کړیدی ( تاندیدند حقیقت ره افسانـه زدند ) نو دا څر ګنده خبره ده چه هر اظهار یا انکار دمثلو وړندی اوهر څوك هغه وا ئی چه په‌لحان کښې‌ئې‌وینی بناپر دې‌اساس‌زماهم‌زړه غوښته چه پدی‌خصوص کښې خپله شخصی نظریه عرض کړم او تر هر څه و ړاند ی لږاودېر دروح په شاوخوا کښې‌وږغېږم بیانوپه اصل مطلب پیل و کړ م .

الله تعالی په‌قرآن شریف کښې فرمائی : چه ما وانسان ته‌دغو نه علم‌ندی ورکړی چه‌روح وپېژنی‌اوس دپاره ددی چه‌ښه تراشك وتردید پدې لا ره کښې وسوزی که ماکولای شوای چه‌دهره پلوه ږغېد ای شوای ښائی چه‌ساینس‌والا به‌هم‌غوږزورته‌نیولای وای مګراوس به‌په‌دغو نه قدرسره ا کتفا وکړو چه‌دښناخته دایرې ښخه‌نه‌یو وتلی دامثلې‌خبره‌ده‌چه بدن (اوزار ) دروح دی‌نو حر کات پخپله دروح ښخه صادر ېږی مګرروح مجرد اودا صلی مقتضا سره‌ئی څه ګډنه دی داتردیدات چه‌په ژوند کښې پېښېږی دوه ډوله لری اول تغیر داوزاردی‌چه‌هر ه‌عضوه‌فانی کېږی‌دتصر ف‌یوه آله کمېږی اصل عامل چه‌روح دی هغه‌پرخپل حال پاته کېږی (حتی که‌دتجدد امثال نظریه صحت ولری ښائی دېرلحله‌تغیرات‌په‌کارو کی سبب‌به‌ئی‌تغیر ،اوتجدید داوزاروی) روح‌نسبتاً پخوانی‌دی‌هغه‌وخت اوزارجسم نه‌وتصرفات ئې‌ندی کړی اوڅه‌وخت چه دجسم سره یولحای شودیوې‌مجردی مقتضاسره‌راغی (چه‌هغه‌علیحده بحث دی) نوزمونږ هم‌دهغه وخت‌څه پیادنه‌دی غرض دادی چه یوه برخه دانسان دحر کاتوپه‌اوزارپوری اړه‌لری چه‌دمادې وضعیت ته‌ئې رجع کوله کېږی ، اوبله برخه‌ئې په‌روح پوری اړه‌لری چه‌په هغه کښې به‌نو بحث وکړو .

(۱) روح قدیم نه‌دی ولی‌که‌چیری په‌روح کښې استعداد دقدامت‌وای دلحان دپاره به‌ئی‌داسی اوزار جوړ کړی‌وای‌چه‌دده‌دتولو آرزو ګانودپاره‌به‌ئی‌ظرفیت درلودای، اواوس داظرفیت‌نه‌لری مثلا غواړی پوی

خواته ولاړ شي یاجرئت په یوه کار کښي و کړي یانور څه خو اهش ولری زړه او پښی ملګری نه ور سره کوی نا کام پاته کېږی ، امایوازی دغونه کیدلا ی شی چه په کار وعادی شوی اوپه اثر دتلقین د نفس ، یاورزش دبدن طاقت ډېر اوقوت نسبتاً اضافه شوی وی .

(۲) روح علاوه پردغه چه په واسطه داوزار کار کوی اوداوزار دده په حر کاتو کښي دخالت لری دپاره دسرنوشت دانسان یوازنی نقطه داستناد اودپاره دهرډول واقعاتو دماضی اواستقبال یوه نرمه ، اومستعده اوحتی پاکه لوحه ده مګر په عین صفائی اوپه حال کښي دتجرید یوبل انفعالی استعداد هم لری چه په دغه سبب سره همیشه مورد دتعر ض واقع کېږی او پده کښي مختلف رنګونه سرایت کوی په آرزو ګا نو کښي فرق واقع کېږی ګوا کي څرنګه چه په اوزار کښي تغیر واقع کېږی روح هم مستقل حالت نه لری .

(۳) ارواح فرق سره لری ټول یو ډول ند ی اوڅرنګه چه دوی په نوروشیانو کښي تصرف اوعمل کوی د و ی هم دقدرت دلا س معمول دی مثال ئی دا سی د ی، لکه یو مجوف بلو ر چه په د ننه کښي ډېر رنګونه لری اوپه دباندی کښي چه د لمر پلوشي ور ته مخامخ شي یوډو ل سپین ښکاری نوڅر ګنده ده که څوك ودې بلور ته ددننی خواورشی هلته به ډېر رنګونه و ګوری چه هر یو پخپل حد کښي جدا یامختلط لګېد لی اوپه اثر دهغه پلوشو چه دد باندی څخه ورته متوجه شوی د ی دبلور په جوف به ئی یو رنګه دنیا جوړه کړی وی ، حال داچه په دباندی کښي به یورنګ او یو سپین ټوکر ښکاری نوپدی صورت کښي که مونږ داډول بلورا ن چه په دننه کښي لږ یاډېر خالص یامختلط رنګونه لری په مختلفو استعداد وسره دانسانانو تشبیه و کو بی ځایه خبره به نه وی مګر سره ددغه له ډېرو شیانو څخه و بی خبره پاته کېږو مثلاً : داخلی اوضاعو څخه دنفوسو په سبب دامتز اج یاا نعکاس دالو ا نو یو په بله کښي مثبت ومنفی یااصلی وعارضی رنګونه د شعا عو ، کیمیاوی خو اص اواند ازی دقوت ، او اثر د کیفیت د هغو شعـاعو چه ددباندې خواڅخه ودوی ته مخا مخ کېږ ی اونور . . . نورداسی شیان چه تشخیص ،اوجلا والی ئی مشکل دی نومونږ یوازی دغونه قدراحساس کولای شوچه زمو نږ ذاتی تجلی په اثر دهغو شعا عوده چه منبع ئی له حده څخه زمونږ دعقل دباندی ده ـ اوداچه مونږ رنګونه لرو د ازاده ډېر و عللو ؛ لکه ارث روحی اوجسمی حالت دموروپلار ، هغه دوره چه دمور په نس کښي ئي انسان تېروی ، غذا اومسکن ، محیط تربیه مختلف تصورات دژوند ، او مختلف اهتزازونه دروح چه مختلفو وقو عاتو سره د ژوند مخامخ شوی اوخپل انعکاسات ئی پری ایښی وی اونور... نورچه داعلتونه بیاځای پرځای سره نږدی شوی اوله دغو څخه بیا نور شیان زېږ ی او یوه لو سلسله مو می چه په هره ثانیه کښي لایتناهی ( ذروی ) تغیرات پکښي حادثېږی(مونږ مسلمانان وایو؛ خدای تعالی دهرچا سره بیله بیله معا مله لر ی) داخبره حقیقت لری ځکه داخلی

رنګونه مختلف دی یو مضمون چه دوو تنو ته ووائی پرهر یوه باندی بېل ، بېل اثرلری په کیفیت کښي ئی فرق وی یاپه ساده الفاظو سره مېلمه چه دهرچا کره ځی په مختلف ډول سره ئی پذیرا ئی کو له کېږ ی نوداځکه چه دباندینی واردات چه دداخلی انفعالاتو سره یوځای شوی او بیائی اثر پاته کېږی په تر کیب ګی فرق را ځی او مختلف معا جین ځنی جو ړېږ ی نودغه سبب دی چه په اعتبار دډول ، ډو ل حالاتو چه انسان ئی لری دهرچا دخدای اومخلوق سر ه بېله بېله معامله ، اونظروی، ګواکی دامطلب ښه ترا پلاس راځی چه دانسانانو ارواح یوډ ول ندی ، لکن سره ددغه ټولو وقایعو ، انسان یو طاقت اوقوه دمقاومت لر ی چه داټول دآشوب ډك نظام اداره کوی ، اویادی پخپله دغه آشوب او دهای هو ی څخه ډك عالم دی نونتیجه داولاس ته راځی چه مونږ روح سره ددغونه تغیراتو اورنګونه پېژنو، روح پخپله انسان دی غېرله مو نږ څخه ندی چه احتوا پرو کړه شی اوداچه په موضوع کښي دخوب ځینی تعبیرات کول کېږ ی لکه قوهٔ متخیله باطنی وخارجی، یا ارتباط دروح د عا لم مثال یادنورو ار واحو سره ، یاسیروتعدد دارو احو

په یوه انسان کښې ښائی داټول شیان تریوی اندازې درست وی مګر پدادول سره چه پوره تحلیل دمطلب په وشی او طرف دقناعت واقع شی زړه نه ور ته تکیه کېږی ، اوس به ولاړ شو واصل مطلب ته چه روح په وخت دخوب څه کار و نه کوی :-

روح هیڅ شی دېخوانه هېر وی، ټول خاطرات ئې په زړه وی او که نقص داوزار نه و ی تا ته ئې ښودلای شی-روح ټول هغه شیان چه دده په نفع اوضرر اړه لری دماقبل وی که د ما بعدو هغو ته التفات لری نوددغه جهته څه وخت چه مونږ بیده یو اوزار دبد ن بیکاره شوی اوروح خپل اصلی وعارضی مقتضیات بیله تعلیله څخه ستادنظره تېره وی - حتی ډېر لحله هغه شیان چه ستا دویښې په وخت کښې په زړه ندی دخوب په وخت کښې ئې درویښی او داسی ګمان نه کوی چه ته ورسره بی سابقی یې دلته یو اعتراض کېږی: چه ډېر لحله انسان مرګ په خوب کښې وینی اوداامر له مقتضیاتو څخه دروح ندی - او که مرګ دخوب په وخت کښې څرنګه چه یو حقیقی مرګ نه بلل کېږی صرف یوه لوبه وګڼو، ددی لوبی ضرورت هم باید وپېژندل شی ددی اعتراض جواب دادی تر هغه وخت پوری چه وعده داجل نوی رسیدلی روح له جسم څخه دفاع کوی، او په حال کښې دویښتوب خپله وظیفه ایفا کوی مګر هاته چه انسان بیده شی نودی په آزاد ډول سره هر څه کوی مثلاالوزی (دالو توسره چه پرېوتل ترلی دی) پرېوزی مګر په دی وخت کښې دوه حالته لری :

کله روح ډېر بوتلو متأثر شوی او په یوه د هشتناك ډول سره انسان دخوب څخه راپاڅېږی او کله صرف الوتنه، او پرېوتنه لکه دسینمافلم تش دنظره څخه تېرېږی بل کیفیت نه دی ورسره ملګری- په دواړو صورتو کښې اعتدال دجسم اودروح په افعالو کښې دخالتلری لکه دویښې په وخت کښې څوك دلاوره او څوك بې زړه اویا دچا په مخ کښې کوچنی خبری لوئی ، یاغټی خبر ی وړې ښکاری، دځینو ګړو صحت ښه دځینو صحتور ان وی - څوك رشتیاویونکی اوڅوك دروغجن او مبالغه کاره وی بعضی خلق و آینده حالاتو ته ډېره تلوسه لری او بعضی خلق هیڅ په فکر کښې دهغه نه وی یاعقیده پر خوب لری ، یانه - خوبونه عیناً پدغه تناسب سره واقع کېږی ( اوداتناسب ډېره یومهمه نقطه ده په خوب کښې) امامرګ رشتیا چه په هیڅ وخت کښې نه غوښت کېږی

اوس به نوو ګورو: داډول مرګ چه په ډول دفلم دسینما بیله دهشت څخه لیده کېږی داصرف اتباع دعمومی قانون ده چه هر شی مرګ لری اودخپل مرکز و خوا ته هڅه کوی نوهر کله چه خوب کښې هم روح یوازی نه وی دبد ن سره یوځای لیده کېږی اوالوزی داتقاضا دجسم ده چه لوېږی یامرګ پر جاری کېږی او دروح دخوا څخه په ډول دلوبی تلقی کېږی ښائی که انسان ته قدرت ورکړی شوی وای دغسی به دالوتلو په صورت سره الوتلای او کښېښستلای به .

راغلو دابل صورت ته چه واقعه دیوه دهشت او تاثیره سره ولیده شی دلته به نو بیرته ولاړ شو دهغه دمخه خبری ته لکه چه وموویل: چه په افعالو کښې دروح علاوه پردخالت داوزارو پخپله یده کښې هم یوانفعالی استعداد پروت دی چه خارجی اعتراض تاثیر پر کوی نو داډول دهشتنا که حالتونه کله صرف جسمی اووهمی کیفیت وی چه څه حقیقت نلری مثلاً یو سړی چه په خوب کښې ئې په سر لاس نیولی دی دی وائی په سرمی ډېره پرته ده یادکېږه څخه ولو ېږ ی دی وائی دبام څخه خطا شوم بل هغه واقعه ده چه تاثیر ئې دیوه واقعی راتلو نکی حالت څخه نما یند ګی کو ی مثلاً دکوهی پرغاړه سړی ځی پښه ئې خطا کېږی او ور لوېږی داوضعیت کنایه دیوې حقیقی و اقعی څخه و ی چه پس ددغه څخه راځی او په بل ترتیب سره واقع کېږی دلته هم داسوال مینځ ته راځی چه داډول حقیقی قضایا ولی په صراحت سره نه لیدل کېږی چه په کنایه سره ومخ ته راځی ؟ - ددی پوښتنی ځواب دادی چه روح د غیبو علم نه لری او نه دی مشاهدتاً آینده وا قعه لیدلای شی صرف هغه ارواح چه معتقد اوحساس وی دیوې حساسې آلې په شان (پخواتر تماس) متاثر شوی اوهغه اوضاع چه په ډول دمجاز یاکنائی ستا ومخ ته وړاندی کېږی تصویرات دهغه تاثیر دی چه روح ئې پخپله مینځ ته را باسی حتی انسان په و ېښه کښې هم دغه حالت لری ډېر لحله یوه خبره چه له هغه څخه په آینده کښې خوشحا له یاخپه کېږی تصویر دهغه حالت په مخ کښې له ځانه سره کوی یوازی دویښی اودخوب دافرق وی چه په ویښه کښې تصویر دهغه حالت مرتب وی او په خوب کښې عکس دهغه وی - او په ویښه کښې ډېر داسی مثالو نه شته چه یو سړی پخواتر هغه چه مری اویا بله لویه واقعه ورپېښېږی پخواتر وقوع ئې پرده اثر شوی اوله هغه څخه دا جمال په ډول اظهار کوی .      «نور به ۲۷ مخ کښې»

« پاتی د ۲۶ مخ »

اوس زما په فکر دارالحی چه روح دغه پورو ح
دی کارونه ټول ددهدی مګر داچه پد ی خصو ص کښې
اظهار درآیو کیږی داخبری هم تر یو ی اندازی
پوری لګیږی مثلا : خوب زاده د عار ی تصوراتو
سوابقو امیالو، مشاهداتو . . . . . بولی تر هغه وخت
پوری چه خبره ئی په استقبال پوری ربطیدا نکړ ی
صحت لری ـ اودا چه وائی : داولیاؤ خوب کر امت د ی
حقیقت لری ولی ارواح دصالحانو چه زنګ دمعصیت نه وی
پرلو یدلی نسبت و نوروته روښانه او په جذب کښې داثر
مقتدر او حساس وی اماالکه دمخه چه موو ویل چه ټول ارواح
یو ډول نه دی په عمل، اوقدرت کښې فرق شته نو او س که
ارواح دری ډوله فرض کو بی ځایه خبره به نه وی : اول
صالح ارواح څه چه په خوب وینی هغه اکثره دو یښی په
حالت کښې صادر کیږی ـ داعلامه، داعتدال، او قوت
اوحساس، اوصلاحیت دروح ده دوم دمتو سطو خلقو
خو بو نه ځنی، ځیجی، او ځینی تشی ارزو ګا نی تصویر
شوی وی چه غالباً په یاد کښې نه پاته کیږی دریم دشریر و
خلقو خو بو نه نادر یاا ند رځیجی چه هغه هم په غیر مناسب
صورت سره واقعات دماقبل اومابعد مخلوط شوی ښکاره
کیږی چه وروسته کنایه هم د تر جمانی څخه دهغو عاجز ه
وی. ځینو کسانو ویلی دی خو بو نه چه ژر خیجی صفائی
دتخیل ده اوهغه خو بو نه چه په ځنډ نتیجه ور کوی صفائی
دروح ده اووجه ئی داوائی : چه هغه اوامر چه د عالم
بالا څخه صادر یږی څو چه تر مخکی رارسیږی ډیر وخت
پکښې تیر یږی نو صاف ارواح ئی دمخه ترر اسید لو
مثلا دوه کاله وړاندی سړی ته الهام وکړی اوخو ب
و روسته تر دوو کالو وخیجی ـ نو داخبره دغه معنی
لری چه قوی ارواح لیری شیا ن نقل کوی او ضعیف
ارواح چه قدرت داخذ ئی لږوی ولځان ته نژدی شیان
ور کشولای شی ـ خو پر هر صورت هرډول بحثونه چه
وشی اوتعبیر ونه ورته وضع شی روح دغه یودی چه ند ی
پیشر ندل شوی ـ اوخوب دده دحر کاتو یوحر کت دی
چه انکا رنه ځنی کیږی او په مستقیم صو ر ت سر ه
اثبات دده دوجود په کیږی .